د افغانستان اسلامی جمهوریت
مالیې وزارت

# شتمنی

د ماليې وزارت اونيزه خپرونه

زموږ ماليه زموږ هېواد زموږ راتلونکی

شماره یک صد و پنجاه | یک شنبه | ۲۲ثور سال ۱۳۹۸ | سال تاسیس : ۱۳۹۴ هجری شمسی

## د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په موخه د افغانستان – اروپايي ټولنې ترمنځ لومړنۍ ځانګړې کاري ناسته تر سره شوه



د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په موخه د افغانستان – اروپايي ټولنې تر منځ لومړنۍ ځانګړې کاري ناسته د۱۳۹۸لمريزکال د غويي مياشتې په ۱۷ مه نېټه د ماليې وزارت د پاليسۍ مرستيالې اغلی ناهيد سرابي او د اروپايي ټولنې د پراختيايي همکاريو لوی رئيس ښاغلي رافيلا لوديس په ګډه مشرۍ د ماليې وزارت په خيبر هال کې جوړه شوه.



په دې کاري ناسته کې د بهرنيو چارو، کرنې، سوداګرۍ، کار او ټولنيزو چارو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، کانونو او پټروليم وزارتونو همدارنګه د سوداګرۍ او صنايع خونې، د افغانستان برېښنا شرکت، لوی څارنوالۍ او د ايټاليا، جرمني، سوئيس، ډنمارک او سويډن سفارتونو استازو ګډون کړی وو.

په دې ناسته کې د افغانستان په پراختيايي لومړيتوبونو، د افغانستان – اروپايي ټولنې د دوه اړخيزو همکاريو په بررسي، د پراختيايي همکاريو په راپور، په پايدارې اقتصادي ودې، د دولت جوړونې قرارداد، د سولې او ديموکراسۍ په پروسو، کارموندنې، سيمه ايزې همکارۍ، کډوال او بېرته راستنيدونکو او يو شمېر نورو اړوندو مسايلو بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

د يادونې وړ ده چې ياده ناسته مقدماتي وه او ټاکل شوې ده اصلي ناسته د غويي مياشتې په ۲۴مه نېټه په بهرنيو چارو وزارت کې جوړه او د يادې اجنډاء په اړه به لازمې پريکړې وشي.

## عناوین مهم

داقتصادي او ټولنيزې پراختيا په موخه د افغانستان – اروپايي ټولنې ترمنځ لومړنۍ ځانګړې کاري ناسته تر سره شوه



رهبری وزارت ماليه به منظور ايجاد هماهنگی بيشتر و مؤثريت کمک ها با تمويل کننده گان جلسات متداوم برگزار نمود



دماليې وزارت وياند: د افغانستان اقتصادي بسياينې د سند ترتيبول مالي خان بسياينې او د افغانستان د خلکو هوسايني لپاره ستر ګام دی



جلسهٔ هيئت مديره د افغانستان برشنا شرکت داير گرديد



د امتياز خاوند : شمروز خان مسجدی د عامه اړيکو ريس او وياند
مســــــوول مدير : عبدالله درمان
مـــــــرستيال : فردين معرفتی
کـــــــتنپلاوی: داود نظری،محمد ابراهيم ګران، محمود عبادی او سليمان نوری
تخنيکي همـــکار : فريد نوبښت،عتيق الله عتيق
ديزاينـــــــر :
بريښناليـــــــک : tamas@mof.gov.af
اړيکـــــشميرې: ۰۲۰۲۱۰۶۴۰۹

# رهبری وزارت مالیه به منظور ایجاد همآهنگی بیشتر و مؤثریت کمک ها با تمویل کننده گان جلسات متداوم برگزار نمود






**رهبری وزارت مالیه به منظور ایجاد همآهنگی بیشتر و مؤثریت کمک ها با برخی کشور های تمویل کننده به منظور ایجاد همآهنگی بیشتر و مؤثریت کمک ها با کشورهای ایالات متحده امریکا، اتحادیه اروپا، انگلستان، کانادا، فنلند، ،ایتالیا، هالند، جرمنی، دنمارک، ناروی، سویدن، سویس، کوریایی جنوبی ، بانک جهانی و بانک انکشاف آسیایی طی جلسات جداگانه در خیبرهال وزارت مالیه در حضور مسئولین ادارات ذیدخل دیدار و بحث نمود .**

طی جلسات متذکره در رابطه به دستآوردهای حکومت افغانستان طی یک سال گذشته، تطبیق مؤثر پروژه های انکشافی، برنامه کمک های انکشافی تمویل کننده گان، بررسی پیشرفت کمک های تعهد شده و پاسخگویی تحت سند چارچوب حسابدهی متقابل-جینوا(GMAF) ، ایجاد همآهنگی بیشتر با حکومت افغانستان در تطبیق پروژه های انکشافی دارای اولویت، برنامه ریزی هماهنگی جدید کمک ها، تطبیق پروژه های در حال جریان و دیگر مسائل مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت .




کشور های نامبرده از جمله کلیدی ترین تمویل کننده گان افغانستان می باشند که کمک های انکشافی شانرا از طریق چارچوب های دو جانبه و چند جانبه ارائه نموده و به همکاری های انکشافی دراز مدت به افغانستان متعهد می باشند .

قابل تذکر است که جلسات گفتگوی همکاری های انکشافی با تمویل کننده گان سالانه برگزار می گردد، که اهداف عمدهٔ آن ایجاد همآهنگی بهتر در سطح پالیسی میان حکومت افغانستان، کشورها و نهاد های تمویل کننده بشمول مؤسسات سازمان ملل متحد جهت بلند بردن مؤثریت کمک ها می باشد.



# د ماليې وزارت وياند: د افغانستان اقتصادي بسياينې د سند ترتيبول مالي ځان بسياينې او د افغانستان د خلکو هوساينې لپاره ستر ګام دی

**د ماليې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رئيس او وياند ښاغلي شمروز خان مسجدي، د ۱۳۹۸لمريز کال د غويي مياشتې په ۲ مه نېټه د ماليې وزارت لاسته راوړنو او فعاليتونو د اطلاع رسونې، سوداګرو، خصوصي سکټور، مدنې ټولنو او رسنيو د استازو د ستونزو اورېدو په موخه پروان ولايت ته سفر وکړ.**

په دې سفر کې د ماليې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رئيس د پروان ولايت له مستوفي ښاغلي عبدالواحد قرلق، د خصوصي سکټور، مدني ټولنو او رسنيو له استازو سره په جلا توګه وليدل.

همدا راز د خصوصي سکټور، مدني ټولنو له استازو او رسنيو سره په ليدنه کې يې د ماليې وزارت د لاسته راوړنو او فعاليتونو د راپور لنډيز او د اطلاع رسونې مېکانيزم شريک کړ. د خصوصي سکټور، مدني ټولنو او رسنيو استازو خپلې ستونزې او وړانديزونه وړاندې کړل. ښاغلي مسجدي، له هغوی سره ژمنه وکړه، چې د دوی ستونزې به د ماليې وزات مشرتابه ته رسوي، څو د شته امکاناتو او د هيواد نافذه قوانينو په رڼا کې رسېدنه ورته وشي.

په دې سربېره په تېرو پنځو کلونو کې د ملي عوايدو راټولېدو، د مؤثريت، مثمريت او د خلکو د لومړيتوبونو ته په کتو سره د پراختيايي بوديجې د لګښت، له نړيوالو معيارونو سره سم د ۱۳۹۸ مالي کال ملي بوديجې د ترتيب او بوديجوي اصلاحاتو په برخه کې د ماليې وزارت لاسته راوړنې او کړنې، د پروان ولايت پراختيايي پروژو لپاره د بوديجې تخصيص، اصلاحات، سيستم جوړونه او له فساد سره مبارزه، د سيمې له ديارلسو هيوادونو سره د کمېسيونونو د جوړونې او ښه مديريت، د بروکسل، وارسا او جينوا کنفرانسونو بريالى تر سره کېدو په څېر نړيوالې لاسته راوړنې، د ښاغلي مسجدي، له لوري په يو سيمينار کې د پروان ولايت محصلينو ته تشريح او معلومات ورکړل شول.



همدا شان د اړيکو او عامه پوهاوي رئيس، د افغانستان اقتصادي ځان بسياينې سند، د افغانستان د ځان بسياينې او خلکو د هوساينې پراخ پلان په توګه او مالي چټکتيا بستې (د پانګونې مالي بسته) په اړه هم محصليونو ته معلومات ورکړل.

د سيمينار په پای کې د محصلينو پوښتنو ته ځوابونه وويل شول.

## د روژې مبارکې مياشتې رارسېدو په مناسبت د ماليې وزارت د مشرتابه پيغام؛

**د ماليې وزارت مشرتابه؛ د روژې مبارکې مياشتې په را رسېدو سره د نړۍ ټولو مسلمانانو په ځانګړې توګه د افغانستان ملت ته د نېکمرغۍ او مبارکۍ مراتب وړاندې کوي او د لوی څښتن تعالی له دربار څخه غوښتنه کوي، چې عبادتونه او روژه مو قبول او ومنل شي.**

**په هيواد کې د تلپاتې او سرتاسري سولې په هيله**

# جلسهٔ هیئت مدیره د افغانستان برشنا شرکت دایر گردید



جلسهٔ هیئت مدیره د افغانستان برشنا شرکت به تاریخ ۱۷ ثور ۱۳۹۸۸ به ریاست محترم عبدالحبیب خدران، سرپرست معین اداری وزارت مالیه و اشتراک اعضای هیئت مدیره هر یک معینان محترم وزارت های انرژی و آب، شهرسازی و اراضی، نمایندهٔ وزارت اقتصاد، رئیس اتاق های صنایع و معادن، رئیس د افغانستان برشنا شرکت و دیگر روساء این اداره دایر گردید.

در این جلسه در رابطه به اساسنامهٔ جدید برشنا شرکت مطابق به قانون شرکت های دولتی، ارایه تحلیل مالی و اقتصادی برشنا شرکت در مورد کاهش تعرفه مکاتب خصوصی در مطابق تعرفه صنعتی و ولایاتیکه از طریق دیزل جنراتور تامین انرژی برق میکنند، تعدیل بند ۶ و۷ماده ۴۱ پالیسی فروش انرژی برق در ارتباط به اقساط صرفیه برق، اتخاذ تصمیم در مورد سرمایه گذاری پول تقاعدی و نگهداشت پول ریزرفی و گزارش از اجراات تصامیم مجالس هیئت مدیره طی سال ۱۳۹۷ بحث همه جانبه صورت گرفته و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## د اسلام کلا سرحدي ګمرک ته د هرات محصولي ګمرک په لیږد ترلس زره زیاتو کسانو ته د دايمي کار زمینه برابرېږي



دهرات محصولي ګمرک د ماليې وزارت د رهبرۍ له پريکړې سره سم خصوصي سکټور ته د لا اسانتياوو رامنځته کولو، هيوادوالو ته د کار موندنې او په شفاف ډول د ملي عوايدو راټوليدو په موخه د اسلام کلا سرحدي ګمرک ته وليږدول شو.

د هرات محصولي ګمرک په ليږدولو سره چې له اسلام کلا څخه ۱۲۰۰ کيلو متره فاصله لري ملي سوداګرو، پانګه والو او متشبثينو ته زياتې اسانتياوې رامنځته کوي او اسلام کلا ته د دې ګمرک ليږدولو موخه په سوداګريز مرکز او اقتصادي زون د اسلام کلا بدليدل، د هرات ولايت د اسلام کلا، کوهسان، غوريان او زنده جان ولسواليو ښاري پراختيا، له اداري فساد، د توکو له قاچاق کولو او د جنس له بدلولو څخه مخنيوی او د دې ترڅنګ تر لس زره زياتو کسانو ته دايمي کار رامنځته کول دي.

د ياد ګمرک د ليږدولو پروسه ازمايښتي ده او په لومړي پړاو کې د هرات ګمرک ۶۰۰ تنه تخنيکي کارکوونکي اسلام کلا ته ليږدول شوي دي.

د يادونې وړ ده چې د هيواد د نورو ګمرکونو مطالعه هم دوام لري چې د اړتيا په صورت کې به اړوندو پولو ته وليږدول شي.

## قانون مالیات برعایدات



**مادهٔ پنجاهم**

حق بیمه که بموجب عقد قرار داد تحریری اخذ شده و تادیه نهائی مفاد مشخص را به بیمه شدگان یا اشخاص منتفع شان

ایجاب نماید، از مالیات برعایدات معاف اند.

1.50 باوجود اینکه بیمه معمولی و تادیه کامل بیمه حیات، پلان های معاش مستمری، قرارداد های تقاعدی و انواع مختلف

بیمه حیات همراه با پلان های پس انداز عبارت از بیمه اند که حق بیمه اخذ شده از چنین موارد ذریعه یک شرکت بیمه از مالیه

معاف می باشد. هرپالیسی بیمه که صادر میگردد، قبل از صنف بندی باید تحت بررسی قرار گیرد. حق بیمه صرف

درصورتی معاف پنداشته میشود که پالیسی بیمه واجد شرایط ذیل باشد:

الف. پالیسی ذریعه شرکت بیمه بدون تادیه مفاد ویا به استثنای عدم مؤفقیت بیمه شدگان جهت تادیه حق بیمه

طوریکه درپالیسی ترتیب گردیده است، خاتمه نیابد.

ب. حق بیمه ایکه درپالیسی تثبیت گردید، ذریعه شرکت بیمه تزئید گردیده نتواند.

ج. پالیسی صادر شده بدون درنظرداشت اینکه آیا شخص بیمه شده به عضویت اش در یک گروه، شغل

وغیره ادامه میدهد یا خیر، به حالت خودش باقی بماند

د. حق بیمه برای بیمه شدگان درذخیره اضافه گردیده و به سرمایه گذاری گذاشته شود. صرف کمیشن مشخص

فروشات از حق بیمه حاصله تادیه میگردد

ه. ذخیره بیمه شدگان نیز باید ذریعه عواید بابت سرمایه گذاری وجوه ذخایر قانونی حمایت یا پشتیبانی داشته

باشد

و. هیچگونه انتقال از ذخیره به بیمه شدگان به استثنای تادیه مفاد های آنها به خودشان ویا اشخاص تعیین شده

به نمایندگی آنها، صورت نگیرد.